# له صحيح البخاری او مسلم شريف

## څخه




۱۰۰

## د سلــــــــــو حديثونو ټولگه


ژباړه: ضياءالرحمن ذهين

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د مبارکو حدیثونو دغه کوچنۍ ټولگه مې زه خپل ارواښاد نیکه جان ته ډالۍ کوم، چاچې په ډېره مینه او شفقت سره تل د زده کړو لور ته هڅولي یم. له تاسو هیله لرم چې په خپلو دوعاگانو کې یاد وساتي. رب متعال دې جنت الفردوس ورته نصیب کړي.

په دوهم قدم کې خپل قدرمن استاد ملا سردارآغا حیدری ته ډالۍ کوم، چاچې د حدیثونو په ژباړه کې راسره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړې، او زه یې د دې ټولگې ژباړلو ته تشویق کړم. رب تعالی دې په پوهه کې برکت راولي.

**په ډېره مینه او درنښت**

**ض.ذهین**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژباړن سریزه

**الحمدالله رب العالمین والعاقبه للمتقین والصلاه والسلام علی رسوله الامین وعلی آله واصحابه اجمعین.**

**اما بعد** له قرانکریم وروسته د دین تر ټولو مهمه سرچینه حدیث دي، په کومو کې چې د نبي کریمﷺ مبارک اقوال، افعال، اخلاق او وړاندیزونه بیان شوي دي. دنبي کریمﷺ اخلاق او کړنې د مسلمانانو لپاره د ښو اخلاقو اوکردارونو نمونې دي. که مونږ وغواړو چې د نبي کریمﷺ په سنتو ځان برابر کړو، نو باید د هغه له اقوالو او افعالو څخه ځان خبر کړو. نو دا ښکاره ده چې د حدیثو له زده کولو او مطالعه وروسته به مونږ د خوږ نبي کریمﷺ له افعالو او اقوالو څخه خبریږو او هغه به په ځان او ټولنه باندې عملي کوو.

که وکتل شي د قرانکریم تفسیر او توضیحات په احادیثو کې موندل کیږي، هغه څه چې په قرانکریم کې په عمومي ډول بیان شوي وي د هغه په اړه احادیثو په ځانګړي ډول توضیح او تشریح وړاندې کوي. بله داچې د رسول پاکﷺ حدیثونه زمونږ او تاسي په ژوند کې هغه قانون دي، چې بغیر له کومې نمګړتیا څخه مونږ او تاسي ته د ژوند ټول اصول تشریح کوي،او په اړه پشپړ یې معلومات راکوي او د هغو له عواقیبو مو خبروي.

په دغه ټولګه کې ټول سل حدیثونه جمعه شوي دي، چې له جملې څخه یې ۴۵ متفق علیه حدیثونه دي. متفق علیه هغه حدیثونو ته وویل کیږي چې هم په صحیح البخاري او هم په صحیح المسلم کې روایت شوي وي. ۱۴ حدیثونه له صحیح البخاری څخه دي. د احادیثو دغه کتاب د امام محمد بن اسماعیل البخاري (رحمه الله) لخوا څخه د شپاړلسو کلنو په جریان کې ترتیب شوي دي. په دغه کتاب کې د حدیثونو دشمیر په اړه مختلیف اقوال راغلي دي. ابن صلاح او نووي وایي: په صحیح البخاري کې ټول ۷۲۷۵ حدیثونه راټول شوي دي چې بغیر له تکراري حدیثونو څخه ۴۰۰۰ حدیثونه کیږي. ابن حجر عسقلانی بیا وای چې ټول پکې ۷۳۹۷ حدیثونه راټول شوي دي چې بغیر له تکراري حدیثونو څخه٢٦٠٢ حدیثونه کیږي.

په دغه ټولګه کې پاتې ۴۱ حدیثونه له صحیح المسلم شریف نه راوړل شوي چې د احادیثو دغه معتبر کتاب د امام ابوالحسن مسلم بن حجاج القشیري نشاپوري لخوا لیکل شوي دي چې د حدیثونو شمیر یې ۷۲۷۵ دي بغیر له تکراري حدیثونو څخه ۴۰۰۰ حدیثونه پاتې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې د الله ﷻ شکر آدا کوم چې ماته يې د دې ټولګې د ژباړلو توفيق راکړ که له ما څخه که کومه تيروتنه شوې وې لومړې له الله ﷻ او بيا ستاسو څخه ښښنه غواړم.

**په ډېر مينه او درنښت**

**ضياءالرحمن ذهين**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱) عَنْ أَبِی هُرَیرةَ رضی الله قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِﷺ: « كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِى الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ اِلَى الرَّحمنِ: سُبحانَ اللَّهِ وَبِحمْدِهِ، سُبحانَ اللَّهِ العظِيمِ» متفق علیه**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: د نبي کریمﷺ وفرمایل: دوه کلمي دي، چې په ژبه سپکې د خو د اعمالو په تله کې وزن لرونکې دي، او د اللهﷻ په وړاندې محبوبې دي. هغه کلمې دادي سُبحانَ اللَّهِ وَبِحمْدِهِ، سُبحانَ اللَّهِ العظِيمِ

**۲) عَنْ أَبِی هُرَیرةَ رضی الله قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ اِلَی رَسُولِ اللَّهِﷺ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِی؟ قَالَ: «أُمُّکَ» قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «ثُمَّ أُمُّکَ». قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «ثُمَّ أُمُّکَ». قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «ثُمَّ أَبُوکَ» (متفق عیله)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ حضور ته یوکس راغی وویل: کوم کس زما د ښه چلند لپاره له نورو ډیر حقدار دي؟ ورته وویل: ستا مور. بیایې پوښتل: وروسته څوک؟ ورته وویل: ستا مور. بیایې پوښتل: وروسته څوک؟ ورته وویل: بیا هم ستا مور. وپوښتل: وروسته له مور څخه؟ ورته وویل: وروسته له مور څخه دې پلار

**۳) عَنْ أَبِی هُرَیرةَ رضی الله عنه قَالَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: اِيَّاكُمْ وَالظَّنِّ، فاِنَّ الظَّنَّ أَكذبُ الحديثِ. (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: له بد ګمان څخه ځان وساتي، ځکه بد ګمان د دروغو بدترین شکل دي.

**۴) عَنْ أَبِی هُرَیرةَ رضی الله قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِﷺ: «اِنَّ العبْد لَيَتَكَلَّمُ بِالكَلِمةِ مَا يَتَبيَّنُ فيهَا يَزلُّ بهَا اِلى النَّارِ أبعدَ ممَّا بين المشْرِقِ والمغْرِبِ» (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: یو کس به داسې یو کلیمه ووایي چې د هغه په اړه به نه پوهیږي، نو دهغه په وجه به جهنم ته ننوځي او له هغه څخه چې د ختځ او لویدیځ ترمنځ دي لرې دي.

**۵) عَنْ أَبِی هُرَیرةَ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه و آله وسلم أَنَّهُ قَالَ: « اِنِّ اللَّهَ يَغَارُ، وَغَيرةُ اللّهِ أَنْ يَأْتِىَ الْمُؤْمِنُ مَا حَرِّمَ اللَّهُ» ( متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: اللهﷻ هغه وخت په غیرت کې راځي، چې کله یومسلمان د هغو کارونو مرتک شي چې اللهﷻ حرام کړي دي.

**٦) عَنْ أَبِی هُرَیرةَ رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «الْعُمرةُ اِلَى الْعُمرةُ كَفَّارَةٌ لمَا بَينَهُمَا وَالحجُّ المبْرُورُ لَيس لَهُ جَزَاءٌ اِلاَّ الجنَّةُ» (متفق علیه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: يو عمره تر بلې عمرې پورې د هغو گناهونو د ښنلو لامل کيږي، چې د دې دوه عمرو ترمنځ ترسره شوي وي، او د قبول شوي حج ثواب له جنت پرته بل څه نه دی.

**۷ عَنْ أَبِى هُرَيرةً رضى الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «مَنْ قَامَ رَمَضَانَ اِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَلَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» ( متفق عليه)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: د نبي کريمﷺ وفرمايل: څوک چې د روژې مياشت د ثواب د حاصلولو په خاطر په عبادت کې تيره کړي، هغه ټول تير گناهونه به يې معاف شي.

**۸ عَنْ أَبِى هُرَيرةً رضى الله عنه عَنِ النَّبِىِّ ﷺ قَالَ: « التَّثَاؤُبُ مِنَ الشَّيطانِ، فَاِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَليرُدَّهُ مَا استطَاعَ، فَاِنَّ أَحَدَكُمْ اِذَا قَالَ هَا ضَحِکَ الشَّيطانُ» (متفق عليه)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: آرگمی د شيطان له لوري څخه دي. کله چې آرگمی له تاسو څخه کوم يو ته راغي نو هڅه وکړي چې مخه يې ونسي. ځکه کله چې تاسو خوله خلاصوئ او ارگمی کوي نو شيطان خاندې.

**۹ عَنْ أَبِى هُرَيرةً رضى الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِىُّﷺ: «السَّاعِى عَلَى الأَرملَةِ وَالْمِسْكِينِ، كَالْمُجَاهِدِ فِى سَبِيلِ اللَّهِ، أَوِ القائِمِ اللَّيل الصَّائِمِ النَّهَارَ» (متفق عليه)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: دنبي کريمﷺ وفرمايل: هغه څوک چې د کونډو او مسکينانو د ضرورتونو د پوره کولو کوښښ کوي، د هغه کس په شان ده چې د خدایﷻ په لار کې جهاد کوي او يا د هغه کس په شان ده چې شپه په عبادت صبا کوي او د ورځې لخوا روژه نيسي.

**۱۰ عَنْ أَبِى هُرَيرةً رضى الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِىُّﷺ قَالَ: « مَايُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلا وَصَبٍ، وَلا هَمٍّ وَلاحُزن، وَلا أَذًى وَلاغَمٍّ، حَتَّى الشَّوكةُ يُشَاكُهَا اِلاَّ كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ» (متفق عليه)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: مسلمان به هيڅکله په ناروغيو، انديښنو او غمونوکې نه مبتلا کيده، مگر په وسيله يې اللهﷻ گناهونه معاف کوي. حتی اغزي يې چې په پښه کې ځي هم دگناهونو د کفاري لامل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۱ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: « حقُّ الْمُسْلمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خمس: رَدُّ السَّلام، وَعِیَادَةُ الْمرِیض، واتِّبَاعُ الجنائِز، واِجابةُ الدَّعوةِ، وتَشمِیت العَاطِسِ» (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وايي: نبي کریمﷺ وفرمایل: یو مسلمان حق په بل مسلمان باندې پنځه شیان دي. ۱-د سلام جواب ۲- د مریض پوښتنه کول ۳- جنازه کول ۴- د بلنې منل ۵- د پرنجې په وخت کې دعا

**۱۲ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِﷺ : «مَنْ شَهِدَ الجنَازَةَ حَتَّی یُصَلَّی عَلَیها فَلَهُ قِیرَاطٌ، وَمَنْ شَهِدَهَا حَتَّى تُدفنَ فَلَهُ قِیرَاطَانِ». قِیلَ: وَمَا الْقِیرَاطَانِ؟ قَالَ: «مِثْلُ الجبَلَیْنِ العظِیمَیْنِ» (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وايي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هر څوک چې د جنازې د لمانځه تر ادا کولو پورې وي، هغه ته به یو قیراط ثواب رسیږي. او هغه څوک چې د تدفین د مراسمو تر پایه پورې وي، هغه ته به دوه قیراط ثواب رسیږي. وپوښتل سول: دوه قیراط څومره دي؟ وفرمایل: د دوه لویو غرونو په اندازه

**۱۳ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه قَالَ: «مَا عَابَ النَّبِیُّﷺ طَعَامًا قَطُّ، اِنِ اشتهَاهُ أَکَلَهُ وَاِلا تَرَکَهُ» (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وايي: نبي کریمﷺ به هیڅکله په خوړو نیوکه نه کوله، که به یې خوښ وو خوړل به یې، او که به یې خوښ نه وو له خوړلو به یې پرهیز کاوه.

**۱۴ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: « حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ وَحُجِبَتِ الجنَّةُ بِالمکَارِهِ» (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وايي: نبي کریمﷺ وفرمایل: اور د نفسي خواهشاتو په پرده کې ده، او جنت د تکلیفونو او ستونزو په پرده کې ده.

**۱۵ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «اِذَا قُلت لِصَاحِبِکَ یَوم الْجُمُعَۀ: أَنْصِتْ، وَالاِمَامُ یَخْطُبُ، فَقَدْ لَغَوت» (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وايي: نبي کریمﷺ وفرمایل: که چیري امام د جمعي په ورځ د خطبي په ویلو بوخت وي، او ته هغه کس ته چې تاته نږدې ناست ده ووایې (چپ شه) نو تا بې فایدي خبري وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۶ عَنْ أَبِی هُرَیرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «لَوْلا أَنْ أَشُقَّ عَلَی أُمَّتِی، أَوْ عَلَی النَّاسِ، لأَمَرْتُهُمْ بِالسَّوَاکِ مَعَ کُلِّ صَلاةٍ» (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: که چیري زما په امت او یا په خلکو باندې نه سختیدی، ما به دوي ته آمر کړي وو، چې د هر لمانځه لپاره مسواک ووهي.

**۱۷ عَنْ أَبِی هُرَیرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «وَیْلٌ لِلأَعقابِ مِنَ النَّارِ» (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هلاکت دې وې هغو پوندو لره چې د دوزخ له آور څخه نه خلاصیږي.

**۱۸ عَنْ أَبِی هُرَیرةً عَنِ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ: «أَمَا یَخشی أَحَدُکُمْ أَوْأَلا یَخشی أَحَدُکُمْ اِذَا رَفَعَ رَأسهُ قَبل الاِمَامِ، أَنْ یَجعلَ اللَّهُ رَأسهُ رَأس حِمَارٍ » (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هغه څوک چې له امام نه مخکې سر پورته کوي، ایا نه ویریږي چې اللهﷻ به یې سر د خره په سر تبدل کړي.

**۱۹ عَنْ أَبِی هُرَیرةً عَنِ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ:: «مَنْ غَدَا اِلَی المسْجِدِ وَرَاحَ أَعَدَّاللَّهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الجنَّةِ کُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ» (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هر څوک چې مسجد ته تګ راتګ کوي. د هر تګ را تګ په بدل کې به اللهﷻ په جنت کې ملمستیا ورته چمتو کړي.

**۲۰ عَنْ أَبِی هُرَیرةً عَنِ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ: « آیَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاثٌ: اِذَا حَدَّثَ کَذَبَ، وَ اِذَا وَعَدَ أَخلفَ، وَاِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ» (متفق علیه)**

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت ده، چې نبي کریمﷺ وفرمایل: د منافق دری علامي دي. ۱- کله چې خبري کوي دروغ وایي. ۲- په وعده کې خلاف کوي. ۳- په آمانت کې خیانت کوي.

**۲۱ عَنْ أَبِی هُرَیرةً رضی الله عنه عَنِ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ: « مَا أَسفلَ مِنَ الکعبیْنِ مِنَ الازَارِ فَفِی النَّارِ» (رواه البخاری)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي كريمﷺ وفرمايل: د هر شخص كه پايڅې تر بيډيو لاندې وي، په جهنم كې ده. (البته په هغه وخت كې چې دغه ټيټوالي د كبر له وجې وي.) فتح الباري

**۲۲ عَنْ أَبِى هُرَيرةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: « المَلَائِكَةُ تُصَلِّى عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فى مُصَلاَّهُ الَّذى صَلَّى فِيهِ مَا لمْ يُحْدِث، تَقُول: اللَّهُمَّ اغْفِرْلَه، اللَّهُمَّ ارحمْهُ» (رواه البخارى)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي كريمﷺ وفرمايل: ملايكي له تاسو څخه يو كس ته دوعا كوي، كله چې په هغه ځای كې پاتې وي چې هلته يې لمونځ آدا كړي وي ، او تر څو پوري چې بي اودسه شوي نه وي، ورته ويل كيږي: اي اللهﷻ هغه وبښي، اي اللهﷻ په هغه باندې رحم وكړي.

**۲۳ عَنْ أَبِى هُرَيرةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:« كُلُّ أُمَّتِى يَدْخُلُونَ الجنَّةَ اِلاَّ مَنْ أَبَى». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهﷺ، وَمَنْ يَأبى؟ قَالَ: «مَنْ أَطَاعَنِى دَخَلَ الجنَّةَ، وَمَنْ عَصَانِى فَقَدْ أَبَى» (رواه البخارى)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي كريمﷺ وفرمايل: زما ټول امتيان جنت ته داخليږي، بغير له هغه چا څخه چې انكار وكړي. صحابه كرامو پوښتنه وكړه.؟ يا رسول الله هغه څوک دي چې انكار كوي؟ نبي كريمﷺ وفرمايل: هرڅوک چې زما اطاعت وكړي جنت ته داخليږي، او كه نافرماني وكړي، په حقيقت هغه انكار كړي ده.

**۲۴ عَنْ أَبِى هُرَيرةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: « اِذا قَالَ الرَّجُلُ الأَخِيه: يَا كَافِر، فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُما، فَاِنْ كَان كَمَا قَالَ وَاِلاَّ رَجَعَتْ عَلَيْهِ» ( متفق عليه)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي كريمﷺ وفرمايل: هر كله چې يو شخص خپل ورور ته ووايي اي كافره! نو دغه مذكوره كليمه له دغو دواړو څخه يو ته راګرځي، كه چيري هغه كس كافر وي خو سمه ده، او كه نه وي بيا خپله ويونكي ته راجع كيږي.

**۲۵ عَنْ أَبِى هُرَيرةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «للَّهُ أَفرحُ بتَوْبةُ عَبْدِه مِنْ أَحَدِكُمْ يجدُ ضالَّتَهُ بالفلاةِ» (متفق عليه)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي كريمﷺ وفرمايل: اللهﷻ د خپل بنده په توبه دومر خوشحاله كيږي، لكه يو كس چې په صحرا كې خپل ورک شوي مال پيدا كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۶ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه قال: قال رسول اللهﷺ « لاَ تَدْ خُلُونَ الجنَّةَ حَتَّی تُؤْمِنُوا، وَلاَ تُؤْمِنُوا حَتَّی تَحَابُّوا، أَوَلاَ أَدُلُّکُمْ عَلیَ شَیء اِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؛ أَفْشُوا السَّلاَمَ بَینکُمْ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هیڅ څوک به جنت ته داخل نشي، تر څو پوري ایمان رانه وړي، او تر هغه به ایمان رانه وړي، تر څو له یو بل سره مینه ونه کړي. آیا تاسو ته داسي کار ونه ښایم، چې په کولو سره یې ستاسو په منځ کې مینه پیدا شي؟ سلام په خپل منځ کې دود کړي.

**۲۷ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: « الصَّلَوَاتُ الخمْسُ وَالْجُمعةُ اِلَی الْجُمعةِ، وَرَمَضَانُ اِلَی رَمَضَانَ مُکَفَّرَاتٌ مَا بَینهُنَّ اِذَا اجتنَبَ الکبَائِرَ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: پنځګوني لمونځونه او د جمعي لمونځ د بلي جمعي تر لمانځه پوري د هغه ګناهونو دکفاري لامل کیږي، چې د دغو لمونځونو په منځ کې تر سره شوي وي. البته تر هغه وخت پوري چې لوي ګناهونه نه وې شوي. همدارنګه یو روژه تر بلي روژي پوري هم د ګناهونو د کفاري لامل کیږي. په شرط د دې چې انسان د لویو ګناهونو له کولو پرهیز وکړي.

**۲۸ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه قال: قال رسول اللهﷺ «أَفضلُ الصِّیَامِ بَعد رَمَضَانَ، شَهْرُاللَّهِ الْمُحَرَّمُ، وَ أَفضلُ الصَّلاَةِ، بَعد الفرِیضَةِ، صَلاَةُ اللَّیْلِ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: بهترینه روژه د روژې له میاشتې وروسته د الله جل جلاله د محرم د میاشتي روژه ده او بهترین لمونځ له فرایضو وروسته د شپې لمونځ دي. یعني تهجد

**۲۹ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «مَنْ تَاب قَبل أَنْ تطلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مغْرِبِهَا تَابَ اللَّه علَیْه» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هر څوک چې مخکي له دې چې لمر د مغرب لخوا راپورته شي، توبه وکړي الله جل جلاله یې توبه قبلوي.

**۳۰ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:«جُزُّوا الشَّوَارِبَ وَ أَرْخُوا اللِّحَی خَالِفُوا المجُوسَ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: خپل بریتونه مو واړه کړي، او ګیري مو لویې کړي. په دې کار مو له مجوسیانو سره مخالفت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۱ عَنْ أَبِی هُرَیرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «لأَ أَقُولَ سبحان اللَّهِ وَالحَمْدُاللَّهِ، وَلاَ اِلَه اِلاَّ اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبر، أَحبُّ اِلیَّ مِمَّا طَلَعَت علیهِ الشَّمْسُ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: په حقیقت کې که زه ووایم سبحان اللَّهِ وَالحَمْدُاللَّهِ، وَلاَ اِلَه اِلاَّ اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبر. ماته تر هغه څه زیات محبوب دي، چې لمر پرې راختلي ده.

**۳۲ عَنْ أَبِی هُرَیرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «منْ حمَلَ عَلَینا السَّلاح،فَلَیس مِنَّا، ومَنْ غَشَّنَا، فَلَیس مِنَّا» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: څوک چې پرمونږ وسله پورته کړي له مونږ څخه نه دي، او څوک چې له مونږ سره خیانت وکړي له مونږ څخه نه دي.

**۳۳ عَنْ أَبِی هُرَیرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: « اِذَا مَاتَ الاِنسانُ انقطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ اِلاَّ مِنْ ثَلاَثٍ: اِلاَّ مِنْ صَدَقَةٍ جَارِیَةٍ، أَوْعِلم یُنتفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ یَدْعُولَهُ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: کله چې انسان وفات شي د اعمالو ثواب یې قطعه کیږي. بغیر له دریو شیانو څخه: ۱- صدقه جاریه ۲- علم نافعه ۳ـ نیک صالحه آولاد چې ورته دوعا کوي.

**۳۴ عَنْ أَبِی هُرَیرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «لَقِّنُوا مَوتاکُمْ لاَ اِلَهَ اِلاَّ اللَّهُ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: د لاَ اِلَهَ اِلاَّ اللَّهُ کلیمه هغو کسانو ته تلقین کړي، چې د مرگ په حالت کې وي.

**۳۵ عَنْ أَبِی هُرَیرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «مَنْ كَذَبَ عَلَیَّ مُتَعَمِّدً فَلیتَبَوَّأْ مَقعدَهُ مِنَ النَّارِ» (متفق علیه)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هر څوک چې په قصدي ډول ماته د یوي خبري د دروغو نسبت وکړي، په دوزخ کې خپل ځای تیار کړ.

**۳۶ عَنْ أَبِی هُرَیرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «مَنْ دَعَا اِلَی هُدًی کَانَ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ یَنْقُصُ ذَلِکَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَیئا، وَ مَنْ دَعَا اِلَی ضَلاَلَةٍ کَانَ عَلَیْهِ مِنَ الاِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ یَنقُصُ ذَلِکَ مِنْ آثَامِهِمْ شَیئا» (رواه مسلم)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: که څوک خلک د هيدايت لاري ته دعوت کړي، نو دته به د هغو کسانو په اندازه اجر ورکول شي چې هغه نيکه لار تعقيبوي، او د هغو په ثواب کې به هيڅ کمي رانشي. او که څوک خلک د گمراهي په لور دعوت کړي، نو د هغو کسانو په اندازه گناهگاريږي چې هغه غلته لار تعقيبوي او د هغو په گناه کې به هيڅ کمي رانشي.

**۳۷ عَنْ أَبِی هُرَيرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: « قَالَ اللَّهُ تعَالی: أنَا أغْنی الشُّرَکَاءِ عَنِ الشِّرک، مْن عَملَ عَمَلا أشرک فيهِ مَعِی غَيْرِی، تَرَکْتُهُ وشِرکهُ» (رواه مسلم)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: اللهﷻ فرمايي زه له شريک څخه بي نيازه يم، که څوک داسي عمل وکړي چې پکي له ماسره بل شريک په نظر کې ولري، نو زه به هغه او د هغه شرک له منځه يوسم.

**۳۸ عَنْ أَبِی هُرَيرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: « مَنْ صَلَّی عَلَیَّ وَاحِدةً صَلَّی اللَّهُ عَلَيْهِ عَشرا» (رواه مسلم)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: که څوک په ما باندې يو ځلي درود ووايي اللهﷻ لس ځلي ورباندې درود وايي.

**۳۹ عَنْ أَبِی هُرَيرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «کُلَّ الْمُسْلِمِ عَلَی الْمُسْلِمِ حرامٌ: دمُهُ ومالُهُ وعِرْضُهُ» (رواه مسلم)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: د يو مسلمان ټول حقوق په بل مسلمان باندې حرام دي. هغه که وينه وي، که مال او که ناموس وي.

**۴۰ عَنْ أَبِی هُرَيرةً رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «مَانَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَال، وَمَا زَادَ اللَّهُ عَبدا بِعَفو اِلاَّ عِزّا، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ للَّه اِلاَّ رَفَعَهُ اللَّهُ عَزَّوجلَّ» (رواه مسلم)**

ابوهريره رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: هيڅکله صدقه له مال څخه نه کميږي، يقيناً اللهﷻ د خپل بنده د بخشش به بدل کې د هغه عزت نه کموي، او که هر بنده د اللهﷻ لپاره عاجزي وکړي، اللهﷻ يې مقام او مرتبه لوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۱ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:«أَتَدْرُونَ مَا الْغِیبَةُ؟» قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعلمُ.قال: «ذِکْرُکَ أَخَاکَ بِمَا یَکرهُ» قِیلَ: أَفَرَأَیت اِنْ کَانَ فِی أَخِی مَا أَقُولُ؟ قَال: «اِنْ کَانَ فِیهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغتبتهُ وَاِنْ لَمْ یَکُنْ فِیه فَقَدْ بَهَتَّهُ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: آیا پوهیږي چې غیبت څه شي ده؟ ورته وویل سول: اللهﷻ او د الله رسولﷺ ښه پوهیږي. نبي کریمﷺ وفرمایل: خپل ورور به داسي څه سره یادول چې د هغه نه خوښیږي. ورته وویل سول: که د ورور په شتون کې څه ووایو بیا څنګه دي؟ نبي کریمﷺ وفرمایل: کوم څه چې د ورور به مخکي وایې دا د هغه غیبت ده، او که دې ورور شتون ونه لري بیا مو وروپسي بهتان وتاړه.

**۴۲ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:« سبقَ الْمُفَرَّدُونَ» قَالُوا: وَمَا الْمُفَرَّدُونَ یَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قال:«الذَّاکِرُونَ اللَّهَ کَثِیرًا وَالذَّاکِرَاتُ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: مفردون مخکي سول. پوښتنه وشوه. ای د اللهﷻ رسولﷺ مفردون کوم کسان دي؟ نبي کریمﷺ وفرمایل: هغه نارینه او ښځینه چې د اللهﷻ ډیر ذکر کوي.

**۴۳عَنْ أَبِی هُرَیرةَ رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:« اِنَّ اللَّه لایَنْظُرُ اِلی أَجْسامِکْم، وَلا اِلی صُوَرِکُم، وَلَکِنْ یَنْظُرُ اِلَی قُلُوبِکُمْ وَ أَعمالِکُمْ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: یقیناً چې اللهﷻ ستاسي بدنونو او مخونو ته نه ګوري، بلکې ستاسي زړونو او اعمالو ته ګوري.

**۴۴ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:« لا تَجعلُوا بُیُوتَکُمْ مَقَابِر، اِنَّ الشَّطانَ یَنْفِرُ مِن الْبیْتِ الَّذی تُقْرأُفِیهِ سُورةُ البقرةِ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: له خپلو کورونو نه هدیري مه جوړوي، یقیناً له هغه کور نه شیطان تیښته کوي، چې هلته د بقري سورت تلاوت کیږي.

**۴۵ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:« لاَ یَدْخُلُ الجنَّةَ مَنْ لاَ یَأمنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هغه څوک به جنت ته داخل نشي، کوم چې له ضرر نه یې ګاونډی په امان نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۶ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:«أَقربُ مَا یَکُونُ العبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَکْثِرُوا الدُّعَاءَ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: بنده د سجدې په حالت کې تر بل هر وخت زیات اللهﷻ ته نږدې وي نو هلته زیاته دعا کوي.

**۴۷ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:«مَنْ سَلَکَ طَرِیقًا یَلتمِسُ فِیهِ عِلما سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِیقًا اِلَی الجنَّةِ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هغه څوک چې په داسي لاره روان شي چې پکې علم غواړي، نو اللهﷻ ورته د جنت لاره برابره کړي.

**۴۸ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:«اِنَّ اللَّهَ یَقُولُ یَوم الْقُیَامَهُ: أَین الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِی؟ الیوم أُظِلُّهُمْ فِی ظِلِّی یَوم لاَ ظِلَّ اِلاَّ ظِلِّی» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: اللهﷻ د قیامت په ورځ ووایې، چیري دي هغه کسان چې زما د جلال به خاطر به یې له یو بل سره مینه کوله، چې زه یې نن به خپل سیوري کې ځای کړم په داسي ورځ چې زما له سیوري پرته به بل هیڅ سیوري نه وي.

**۴۹ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: « اِذَا أُقِیمَتِ الصَّلاَةُ فَلاَ صَلاَةَ اِلاَّ المکْتُوبَةُ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: کله چې د لمانځه لپاره اقامت وویل شي، بغیر له فرض لمانځه نه نور لمونځونه صحیح نه دي.

**۵۰ عَنْ أَبِی هُرَیرةَ  رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «الدُّنیا سِجْنُ المُؤْمِنِ وجنَّةُ الکَافِرِ» (رواه مسلم)**

ابوهریره رضی الله عنه وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: دنیا د مسلمان لپاره زندان، او د کافر لپاره جنت دي.

**۵۱ عَنْ عَائِشَةَ رَضِی اللَّهُ عَنها، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:«منْ أَحدث فی أَمْرِنَا هَذَا مَا لَیس مِنْهُ فهُو رَدٌّ» (متفق علیه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

عائشه رضی الله عنها واي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هر شخص چې زمونږ په دین کې داسي څه نوي رامنځته کړي، چې د دین برخه نه وي نو هغه مردود دي.

**۵۲ عَنْ عَائِشَةَ رَضِی اللَّهُ عَنها، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ:«أَحَبَّ الْأَعمالِ اِلَی اللَّهِ أَدومُهَا وَاِنْ قَلَّ» (متفق علیه)**

عائشه رضی الله عنها واي: نبي کریمﷺ وفرمایل: د خدای تعالیﷻ په وړاندې تر ټولو محبوبترین عمل هغه دي، چې دوام وکړي البته که کم هم وي.

**۵۳ عَنْ عَائِشَةَ رَضِی اللَّهُ عَنها، عَنِ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ:« مَنْ نَذَرَ أَنْ يُطِيعَ اللَّهَ فَلْيُطِعْهُ، وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَعْصِيَه ُفَلا يَعْصِهِ» (رواه البخاری)**

عائشه رضی الله عنها واي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هغه څوک چې نظر وکړي چې د اللهﷻ اطاعت وکړي باید هغه اطاعت وکړي، او هر څوک چې نظر وکړي چې د اللهﷻ نافرماني وکړي باید هغه نافرماني ونه کړي.

**۵۴ عَنْ عَائِشَةَ رَضِی اللَّهُ عَنها قَالَتْ، قَالَ النَّبِیَّ ﷺ:«لا تَسُبُّوا الأَمواتَ، فَاِنَّهُمْ قَدْ أَفضوْا اِلَی مَا قَدَّمُوا» (رواه البخاری)**

عائشه رضی الله عنها واي: نبي کریمﷺ وفرمایل: مړو ته ښکنځل مه کوي ځکه هغوي اوس د خپل اعمالو پایلو ته رسیدلي دي.

**۵۵ عَنْ عَائِشَةَ رَضِی اللَّهُ عَنها: «أَنَّ النَّبِیَّﷺ كَانَ لا يَدَعُ أَربعًا قَبل الظُّهْرِ وَرَكعتَيْنِ قَبل الغداهُ» (رواه البخاری)**

عائشه رضی الله عنها واي: نبي کریمﷺ به څلور رکعته مخکې له ماسپښین نه او دوه رکعته مخکې له سهاره نه پریښنودل.

**۵۶ عَنْ عَائِشَةَ رَضِی اللَّهُ عَنها قَالَتْ: «كَانَ النَّبِیَّﷺ يُعْجِبُهُ التَّيَمُّنُ فِی تَنَعُّلِهِ، وَ تَرَجُّلِهِ، وَطُهُورِهِ، وَفِی شَأْنِهِ كُلِّهِ» (رواه البخاری)**

عائشه رضی الله عنها واي: نبي کریمﷺ به د بوټونو په پوښنو کولو کې، د ویښتانو په ګمنځولو کې، په آداسه او نور کارونو کې له ښي طرفه شروع کول خوښول.

**۵۷ عَنْ عَائِشَةَ رَضِی اللَّهُ عَنها قَالَتْ: « كَانَ النَّبِیَّﷺ يَذْكُرُاللَّهَ عَلَی كُلِّ أَحيانِهِ» (رواه مسلم)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

عائشه رضی الله عنها واي: نبي كريمﷺ به په هر حالت کې د خدای تعالیﷻ ذکر کاوه.

**۵۸ عَنْ عَائِشَةَ رَضِی اللَّهُ عَنها عَنِ النَّبِیَّﷺ قَالَ: «رَكعتَا الفجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنيا وَمَا فِيهَا» (رواه مسلم)**

عائشه رضی الله عنها واي: نبي كريمﷺ وفرمایل: د سهار دوه رکعته سنت له دنيا او ما فيها څخه غوره دي.

**۵۹ عَنْ عَائِشَةَ رَضِی اللَّهُ عَنها عَنِ النَّبِیَّﷺ قَالَ: «اِنَّ الرِّفقَ لا يَكُونُ فی شی ءٍ اِلاَّ زَانَه، وَلا يُنزعُ مِنْ شَیءٍ اِلاَّ شَانَهُ» (رواه مسلم)**

عائشه رضی الله عنها واي: نبي كريمﷺ وفرمایل: نرمه رويه په هيڅ شي کې نه ده، مګر هغه شي ته ښکلا ورکوي او ليري کيدل په هيڅ شي کې نه وي مګر هغه شي ته بدوالي ورکوي.

**۶۰ عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِیَّﷺ قَالَ: «لا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّی يُحِبَّ لأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ» (متفق عليه)**

له انس رضی الله عنه نه روايت ده چې نبي كريمﷺ وفرمایل: مسلمان هغه څوک دي چې څه د ځان لپاره خوښوي، د بل مسلمان ورور لپاره يې هم خوښ کړي.

**۶۱ عَنْ أَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِﷺ:«مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرسا، أَوْ يَزرعُ فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ اِنسانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ اِلاَّ كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ» (متفق عليه)**

انس رضی الله عنه وايي: نبي كريمﷺ وفرمایل: هر مسلمان که يو ونه کينوي او يا تخم وشندي، له دې څخه که انسانان، پرنده ګان او حيوانات څه وخوري د دې کس لپاره صدقه ګڼل کيږي.

**۶۲ عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِیَّﷺ قَالَ:«مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبسطَ لَهُ فِی رِزْقِهِ وَيُنسأَ لَهُ فِی أَثَرِهِ فَليصِلْ رَحِمَهُ» (متفق عليه)**

له انس رضی الله عنه نه روايت ده چې نبي كريمﷺ وفرمایل: که هر څوک خوښوي چې روزي يې زياته او عمر يې اوږد شي بايد صله رحمي ولري.

**۶۳ عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه قَالَ: كَانَ النَّبِیَّﷺ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِی الدُّنيا حَسَنَةً وَفِی الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّار» (متفق عليه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

انس رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ همیشه دا دعا لوستله: آی پروردگاره! مونږ ته په دونيا کې نيکي راکړه او په اخرت کې نيکي راکړه او مونږ د دوزخ له اور څخه وساته.

**٦٤ عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «اِنَّمَا الصَّبْرُ عِند الصَّدمةِ الأُولَى» (متفق علیه)**

له انس رضی الله عنه نه روایت ده چې نبي کريمﷺ وفرمايل: صبر هغه ده چې د مُصیبت په شروع کې شتون ولري.

**٦٥ عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «يَتبعُ الَميَّتَ ثَلاَثَةٌ فَيَرْجِعُ اثنانِ وَيَبقى وَاحِدً، يَتبعُهُ: أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبقى عَمَلُه» (متفق علیه)**

له انس رضی الله عنه نه روایت ده چې نبي کريمﷺ وفرمايل: دری شیان له مړه انسان سره ځي، دوه شیان بیرته راګرځي او يو ورسره پاتي کيږي. هغه چې بیرته راګرځي هغه مال اوکورنۍ ده، او کوم چې ورسره پاتي کيږي هغه عمل ده.

**٦٦ عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «يَسَّرُوا وَلا تُعَسَّرُ وا وَبَشَّرُوا وَلا تُنَفَّرُوا» (متفق علیه)**

له انس رضی الله عنه نه روایت ده چې نبي کريمﷺ وفرمايل: د دين په امورو کې اساني وکړي، سختې مه کوي، زيري ورکړي او مې بيزاره کوي.

**٦٧ عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «سَوُّوا صُفُوفَكُم، فاِنَّ تَسوِيَةَ الصُّفُوفِ مِن اِقَامةُ الصَّلاةِ» (متفق علیه)**

له انس رضی الله عنه نه روایت ده چې نبي کريمﷺ وفرمايل: خپل صفونه برابر کړي، ځکه صفونه د لمانځه د قيام برخه ده.

**٦٨ عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «اِنَّ اللَّه لَيرضى عنِ العبْدِ يَأْكُلُ الأكلةَ فَيَحمدُهُ عَليها، وَيَشْرب الشربه فيحمده عليها» (رواه مسلم)**

له انس رضی الله عنه نه روایت ده چې نبي کريمﷺ وفرمايل: په حقيقت کې اللهﷻ له هغه بنده څخه راضي کيږي چې يو مړۍ ډوډۍ وخوري او د اللهﷻ ثنا او شکر آدا کړي، او کله چې اوبو وڅښي د اللهﷻ ثنا او شکر آدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**٦٩ عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِیَّﷺ :«لا یُؤْمِنُ أَحَدُکُمْ حَتَّی أَکُونَ أَحَبَّ اِلَیْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجمعِینَ» (متفق علیه)**

له انس رضی الله عنه نه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: له تاسي څخه هیڅوک تر هغه وخت پوري کامل مسلمان نشي کیداي، تر څو پوري چې زه (نبي کریمﷺ) ورته له مور پلار، آولاد او ټولو خلکو څخه محبوب شوي نه یم.

**٧٠ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهُﷺ: «مَا زَالَ جِبرْیِلُ یُوصِینِی بِالجارِ حَتَّی ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَیُوَرِّثُهُ» (متفق علیه)**

له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: جبرائل[ع] ماته د گاونډي په اړه دومر سپارښتنې وکړي، چې ما فکر وکړ چې په میراث کې به راسره شریک شي.

**٧١ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهُﷺ: «اجعلُوا آخِرَ صَلاتِکُمْ بِاللَّیْلِ وِترا» (متفق علیه)**

ابن عمر رضی الله عنهما وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: خپل اخري لمونځ (یعني وتر) د شپې په ورستۍ برخه کې وکړي.

**٧٢ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِی اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ النَّبِیَّﷺ: «مَا یَزَالُ الرَّجُلُ یَسألُ النَّاسَ حَتَّی یَأْتِیَ یَوم الْقِیَامَهُ لَیس فِی وَجْهِهِ مُزعهٌ لَحم» (متفق علیه)**

عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: بعضي خلک همشه د نورو په وړاندې د سوال لاسونه آوږدوي، دغه خلک به د قیامت په ورځ په داسي حال کې حشر شي چې په مخونو به یې غوښې نه وې پاتي.

**٧٣ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولُ اللَّهُﷺ قَالَ: «الَّذِی تَفُوتُهُ صَلاهُ العصْرِ کَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلُهُ وَمَالُهُ» (متفق علیه)**

ابن عمر رضی الله عنهما وایي: نبي کریمﷺ وفرمایل: څوک چې د مازدیگر لمونځ قضاء کړي داسي مثال لري لکه اهل او مال یې چې له لاس ورکړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۴ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِی اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: « الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لا يَظْلِمُهُ، وَلا يُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِی حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِی حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً، فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوم الْقِيَامَةِ» (متفق عليه)**

له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت ده چې نبي كريمﷺ وفرمايل: مسلمان د بل مسلمان ورور ده په دې خاطر په هغه ظلم مه كوي، او ظالم ته يې مه تسليموي. هرڅوك چې د خپل مسلمان ورور اړتياوي پوره كړي، الله جَلَّ جَلَالُهُ به د ده اړتياوي پوره كړي. هر څوک چې د خپل مسلمان ورور ستونزې حل كړي، الله جَلَّ جَلَالُهُ د قيامت په ورځ د ده ستونزې حل كړي، او كه هر څوک د خپل مسلمان ورور عيبونه پټ كړي، الله جَلَّ جَلَالُهُ د قيامت په ورځ د ده عيبونه پټ كړي.

**۷۵ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِی اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: أَخَذَ رَسُولُ اللَّهِﷺ بِمَنْكِبِی، فَقَالَ: « كُنْ فِی الدُّنيا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ» (رواه البخاری)**

عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وايي: نبي كريمﷺ مې په اوږه لاس راكيښود راته وفرمايل: په دونيا كې د يو مسافر يا لاروي په رقم ژوند وكړه.

**۷۶ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِی اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیَّﷺ قَالَ: «الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوم الْقِيَامَةِ» (رواه البخاری)**

له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت ده چې نبي كريمﷺ وفرمايل: ظلم د قيامت په ورځ د ګڼ شمير تاريكيو لامل كيږي.

**۷۷ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِی اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیَّﷺ قَالَ: « الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ» (رواه البخاری)**

له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت ده چې نبي كريمﷺ وفرمايل: مسلمان هغه ده چې بل مسلمان يې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امان وي، او ريښتنی مهاجر هغه څوک ده چې له هغه څه څخه هجرت وكړي، له كوم نه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ منع كړي وي.

**۷۸ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِی اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیَّﷺ قَالَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ» (رواه مسلم)**

له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت ده چې نبي كريمﷺ وفرمايل: هر څه چې نشه وي شراب او هر نشه كوونكي شی حرام ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۹ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِی اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ: « أَبَرُّ الْبِرِّ أَنْ یَصِلَ الرَّجُلُ وُدَّ أَبِیهِ» (رواه مسلم)**

له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: د انسان لپاره تر ټولو ښه عمل داده چې د پلار دوستي جاري وساتي او د پلار له ملګرو سره دوستي وکړي.

**۸۰ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِیهِ عَنْ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ: «لَا حَسَدَ اِلَّا فِی اثنتَیْنِ: رَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ الْقُرآن فَهُوَ یَتْلُوهُ آنَاءَ اللَّیْلِ وَ آنَاءَ النَّهَارِ وَرَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً فَهُوَ یُنْفِقُهُ آنَاءَ اللَّیْلِ وَ آنَاءَ النَّهَارِ» (متفق علیه)**

سالم له خپل پلار څخه روایت کوي چې نبي کریمﷺ وفرمایل : نشته حسد مګر خو شته په دوه شیانو کې ۱- هغه سړی چې اللهﷻ قرانکریم ورکړي وي او هغه د شپې او ورځې په اوږدو کې تلاوت کوي. ۲- هغه سړی چې اللهﷻ هغه ته مال ورکړي وي او هغه د شپې ورځې په اوږدو کې صدقه کوي.

**۸۱ عَنْ جَابِرٍ رضی اللَّه عنه أَنَّ رّسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «لاَ تَأْكُلُوا بِالشِّمَالِ فَاِنَّ الشَّیطانَ یَأْكُلُ بِالشِّمَالِ» (رواه مسلم)**

له جابر رضی الله عنه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: په کیڼ لاس خواړه مه خوري ځکه شیطان په کیڼ لاس خواړه خوري.

**۸۲ عَنْ جَابِرٍ رضی اللَّه عنه أَنَّ رّسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «مَنْ لَقِیَ اللَّهَ لاَ یُشْرِکُ بِهِ شَیئا دَخَلَ الجنَّةَ وَمَنْ لَقِیَهُ یُشْرِکُ بِهِ دَخَلَ النَّارِ» (رواه مسلم)**

له جابر رضی الله عنه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: هر شخص چې په داسي حال کې له اللهﷻ سره ملاقات وکړي، چې شریک یې ورسره نه وي نیولي جنت ته به داخلیږي. او که هر شخص په داسي حال کې له اللهﷻ سره ملاقات وکړي، چې شریک ورسره نیولي وي دوزخ ته به داخلیږي.

**۸۳ عَنْ جَابِرٍ رضی اللَّه عنه أَنَّ رّسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «اِنَّ بَین الرَّجُلِ وَبَین الشِّرْکِ وَالْكُفْرِ تَرک الصَّلاَةِ» (رواه مسلم)**

له جابر رضی الله عنه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: هغه څه چې د انسان او کفر او شرک ترمنځ فاصله روالي هغه لمونځ دي.

**۸۴ عَنْ جَابِرٍ رضی اللَّه عنه أَنَّ رّسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «یُبْعثُ كُلُّ عبد علی ما مَاتَ علَیْهِ» (رواه مسلم)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

له جابر رضی الله عنه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: هر بنده په هغه حالت راپورته کیږي په کوم حالت کې چې مړ شوی وي.

**۸۵ عَن بَعْضِ أزْواجِ النبىِّ رضى اللّه عنهن عَنِ النبّىﷺ قَالَ: «مَنْ أتَى عَرَّافاً فَسألَهُ عنْ شَىء، لَمْ تُقْبلْ لَهُ صلاةٌ أربعِينَ يوما» (رواه مسلم)**

د نبي کریمﷺ له بعضي بيبيانو څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ ویلي وو: که څوک له عراف (کوډ ګر) سره ملاقات وکړي او له هغه څخه د یو څه په اړه پوښتنه وکړي څلویښت ورځې یې لمونځ نه قبلیږي.

**۸۶ عَن ابن مَسْعُودٍ رضى الله عنه أَنَّ رّسُولَ اللّهِﷺ قَالَ: «اِنَّ أشَدَّ النَّاسِ عَذَاباً يَو الْقِيَامَةُ الْمُصَوَّرُونَ» (متفق عليه)**

له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: په قیامت کې به د عذاب له نظره تر ټول زیات عذاب هغو کسانو ته ورکول کیږي چې انځور ګران وي.

**۸۷ عَن ابن مَسْعُودٍ رضى الله عنه أَنَّ رّسُولَ اللّهِﷺ قَالَ: «الآ يَتَانِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ البقَرَةِ مَنْ قَرَأَهُمَا فِى لَيلةٍ كَفَتَانُ» (رواه البخارى)**

له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: هر څوک چې د سورت بقري دوه ورستنې آیاتونه په شپه کې تلاوت کړي همدا ورته کافي ده.

**۸۸ عَنْ ثابتِ بنِ الضَّحاكِ رضى الله عنه أَنَّ رّسُولَ اللّهِﷺ قَالَ: «لَعْنُ الْمُؤْمِنِ كَقَتْلِهِ» (متفق عليه)**

له ثابت بن ضحاک رضی الله عنه څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: په مؤمن باندې لعنت ویل د هغه د مرګ په شان ده.

**۸۹ عَنْ أَبِى ذَرَّ رضى الله عنه أَنَّ رّسُولَ اللّهِﷺ قَالَ: «لاَ تَحْقِرَنَّ مِنَ المعْرُوفِ شَيئا وَلَوْ أَنْ تَلقى أَخَاكَ بِوَجه طَلق» (رواه مسلم)**

له آبوذر رضی الله عنه څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: هيڅ ښه او نیک عمل حقیر مه ګڼې، حتی له خپل ورور سره په پراخه څهره مخامخ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹۰ عَن أَبی الدَّردَاءِ رضی الله عنه أَنَّ رّسُولَ اللّهِﷺ قَالَ: «مامِن عبد مُسْلِمٍ يَدعُو لأَخِيهِ بِظَهرِ الغَيْبِ اِلاَّ قَالَ المَلکُ ولَکَ بمِثل »(رواه مسلم)**

له آبودرداء رضی الله عنه څخه روايت ده چې نبي کريمﷺ وفرمايل: هيڅ مسلمان بنده نشته چې د خپل ورور لپاره د هغه په غياب کې دعا وکړي، مگر داچې ملايکي ورته وايي چې هغه ستا لپاره هم همداسي ده.

**۹۱ عن معاويه رضی الله عنه أَنَّ رّسُولَ اللّهِﷺ قَالَ: «مَنْ يُرِدِ اللّهُ بِهِ خَيرا يُفَقِّهْهُ فِی الدِّينِ» (متفق عليه)**

له معاويه رضی الله عنه څخه روايت ده چې نبي کريمﷺ وفرمايل: هر شخص ته چې اللهﷻ د خير اراده وکړي، هغه شخص ته په دين کې پوه ورکوي.

**۹۲ عَنْ أَبِی سَعِيدٍ الْخُدْرِیَّ رضی اللّه عنه أَنَّ رّسُولَ اللّهِﷺ قَالَ: «اِذَا سَمِعْتُمُ النَّدَاءَ، فَقُولُوا مِثلَ مَا يَقُولُ الْمُؤَذِّنُ» (متفق عليه)**

ابو سعيد الخدری رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: کله مو چې د آذان غږ واوريده، له مؤدن سره د آذان کلمات تکرار کړي.

**۹۳ عَنْ أَبِی قَتَادَةَ السَّلَمِیَّ رضی الله عنه أَنَّ رّسُولَ اللّهِﷺ قَالَ: «اِذَا دَخَلَ أَحَدُکُمُ المسْجِدَ فَليرکعْ رَکعتَيْنِ قَبل أَنْ يَجْلِسَ» (متفق عليه)**

ابوقتاده سلمي رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: هر کله چې له تاسو څخه يو مسجد ته داخل شو، مخکې له دې چې کيني دوه رکعته لمونځ دې آدا کړي.

**۹۴ عَنْ أَبِی مُوسَی رضی الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِیُّﷺ: «مَثَلُ الَّذِی يَذْکُرُ رَبَّهُ، وَالَّذِی لا يَذْکُرُ رَبَّهُ: مَثَلُ الحیَّ وَالميَّتِ» (رواه البخاری)**

ابو موسی اشعري رضی الله عنه وايي: نبي کريمﷺ وفرمايل: هغه څوک چې د اللهﷻ ذکر کوي، او هغه څوک چې د اللهﷺ ذکر نه کوي په مثال د مړه او ژوندي دي.

**۹۵ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِی اللَّهُ عَنهُمَا قَالَ: قَالَ النَّبِیُّﷺ: «نِعمتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا کَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصَّحَّةُ وَالفراغُ» (رواه البخاری)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن عباس رضی الله عنه وايي: نبي کریمﷺ وفرمایل: په دوه عملونو کې خلک ډېر تاوان کوي. (گټه نه ترې پورته کوي) یو روغتیا او بل فراغت ده.

**٩٦ عَنْ عُثمانَ بْنِ عَفَّانَ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِیَّﷺ: «خَیْرُکُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرآن وَ عَلَّمَهُ» (رواه البخاری)**

عثمان بن عفان رضی الله عنه وايي: نبي کریمﷺ وفرمایل: په تاسو کې نیکمرغه هغه څوک ده چې قرانکریم زده کړي، او نورو ته يې وښيي.

**٩٧ عَنْ عُثمانَ بْنِ عَفَّانَ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِیَّﷺ: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحسنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَایَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّی تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظفارِهِ» (رواه مسلم)**

عثمان بن عفان رضی الله عنه وايي: نبي کریمﷺ وفرمایل: څوک چې په ښه طریقه سره آودس وکړي، گناهونه يې له بدن څخه بهر کيږي. حتی تر دې چې د نکانو له بیخونو څخه يې وځي.

**٩٨ عَنْ عُثمانَ بْنِ عَفَّانَ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِیَّﷺ: «مَنْ صَلَّی الْعِشَاءَ فِی جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصف اللَّیْلِ، وَمَنْ صَلَّی الصُّبح فِی جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّی اللَّیل کُلَّهُ» (رواه مسلم)**

عثمان بن عفان رضی الله عنه وايي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هر څوک چې دماخستن لمونځ په جماعت سره آدا کړي، داسي ده لکه نیمه شپه يې چې عبادت تیره کړي وي. او که څوک د همدغي شپې د سهار لمونځ په جماعت سره آدا کړي، داسي ده لکه ټوله شپه يې چې په عبادت تیره کړي وي.

**٩٩ عَنْ أَبِی أَیُّوبَ الأَنصارِیَّ رضی الله عنه أَنَّ رَّسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: «مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتبعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ كَانَ كَصِیَامِ الدَّهْرِ» (رواه مسلم)**

ابو ایوب انصاری رضی الله عنه وايي: نبي کریمﷺ وفرمایل: هر څوک چې د رمضان د میاشتي روژه ونسي، او له دې وروسته د شوال د میاشتې شپږ ورځي روژه ونسي داسي ده لکه چې ټول عمر يې روژه نیولي وي.

**١٠٠ عَنْ سهل بن حُنَیف رضی الله عنه أَنَّ رَّسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ: « مَنْ سأَلَ اللَّهَ تعالی الشَّهَادةَ بِصِدق بلَّغهُ منَازِلَ الشُّهَداءِ وإِنْ ماتَ علی فِراشِهِ» (رواه مسلم)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سهل بن حنیف رضی الله عنه وايي: نبي کریمﷺ وفرمایل: که څوک په صادقانه ډول له اللهﷻ څخه شهادت وغواړي او بیا په خپله بستره کې مړ شي، اللهﷻ ورته د شهادت مرتبې ورکوي.**

**پای**

**ستاسو د دوعا ګانو په هیله**

**۲۹/۱۲/۱۴۰۳ خوست**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**